لوړو زده کړو اونیزه
هفته نامه تحصیلات عالی
Ministry of Higher Education
شماره یکصد و شصت و چهارم- سال هشتم- جدی -۱۳۹۹ ه. ش
https://mohe.gov.af

# د شهید استاد رباني ښوونې او روزنې پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت د اکاډمیک اعتبار ورکولو سند واخیست



**نن ورځ په نړیواله کچه په تحصیلي بنسټونو کې د علم تولید او څېړنه د تحصیلي نظام کیفیت د لوړولو او په نړیواله درجه بندۍ کې یې د راوستو له پاره یو له عمده شاخصونو څخه دي؛ د تولید کچه او د علمي اثارو اغېز ښندنه په نړیواله کچه ده.**

د شهید استاد رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون، د لوړو زده کړو وزارت اعتبار ورکولو او اکاډمیک سند په اخیستو بریالی شو.

په هغې غونډه کې چې په دې اړه په یاد پوهنتون کې جوړه شوې وه د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر یاد پوهنتون ته د اعتبار سند د اخیستو مبارکي ورکړه او د پرمختګ په لور یې د تګ له پاره د دوی د بریا هیله وکړه.

ډاکټر عباس بصیر وویل: «د اعتبار ورکولو او کیفیت د تضمین پروګرام د لوړو زده کړو وزارت له مهمو پروګرامونو څخه دی چې د هېواد تحصیلي نظام د کیفیت لوړولو په منظور پلی کېږي».

نوموړي همداراز د هېواد د لوړو زده کړو پر بنسټونو کې د علم تولید او څېړنیزو پروګرامونو د پلي کېدو د ټینګار تر څنګ وویل چې نن ورځ په نړیواله کچه د لوړو زده کړو بنسټونو د کیفیت لوړولو او په نړیواله درجه بندۍ کې یې د راوستو لپاره عمده شاخصونه، د علم د تولید کچه او په...

دریمه پاڼه

## از هفدهمین سالگرد رسمی شدن زبان های ازبیکی و ترکمنی گرامیداشت بعمل آمد

از هفدهمین سالگرد رسمی شدن زبان های ازبیکی و ترکمنی با اشتراک شماری از اعضای کابینه، شخصیت های ملی و نمایندگان احزاب سیاسی گرامیداشت به عمل آمد.



**زبان‌ها و رنگ‌ها از نشانه های قدرت الهی محسوب گردیده و احترام به رنگ‌ها و زبان‌ها در این فرهنگ، در واقع ارج گذاری به نشانه های قدرت خداست.**

دریمه پاڼه

## د لوړو زده کړو د داخلي تفتیش رییس، د علي اباد د کادري روغتون وضعیت ارزونه وکړه

د لوړو زده کړو د داخلي تفتیش رییس تېره شپه په ناڅاپي ډول له علي اباد کادري روغتون لیدنه وکړه او په دې روغتون کې یې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو د څرنګوالي ارزونه وکړه.



د لوړو زده کړو د تفتیش رییس غلام داوود شایق په داسې حال کې چې د راپورونو د شننې امر، د اداري او مالي چارو د قوانینو د رعایت د تفتیش امر او...

دریمه پاڼه

## د خصوصي لوړو زده کړو د موسسو د کمیسیون غونډه جوړه شوه



د خصوصي لوړو زده کړو د موسسو د کمیسیون غونډه د لوړو زده کړو د وزیر ډاکټر عباس بصیر په مشرۍ جوړه شوه.

د غونډې په پیل کې د دې تر څنګ چې د لوړو زده کړو وزیر د هېواد د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونه د دې سکتور مهمه برخه وبلل، د تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د قوانینو او...

دویمه پاڼه

**هفته نامه تحصیلات عالی**
صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: پوهنیار حامد عبیدی

خبرنگاران: کاوون رمز و عتیق الله رسیس
ویراستار: اختر محمد عبیر ، شمس الرحمن احمدزی و حبیب وقار
دیزاینر: محمد باقر حیدری و هادی قدیری

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰٦۹٦
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af
spokesman@mohe.gov.af

## جلسه کمیسیون عالی توزیع بورس ها دایر گردید

جلسه کمیسیون عالی توزیع بورسیه های تحصیلی تحت ریاست دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی دایر شد.



در این جلسه اعضای کمیسیون شامل نمایندگان وزارت های امور خارجه، معارف، کار و امور اجتماعی، اقتصاد، امور زنان و همچنان رئیس وآمرین مربوط ریاست تنظیم بورسیه ها حضور داشتند.
وزیر تحصیلات عالی ضمن تشکر از همکاری وزارت خانه ها و ادارات ذیربط شامل کمیسیون متذکره، بحث بورسیه های تحصیلی را مهم خوانده بر مدیریت بهتر توزیع بورسیه ها با هماهنگی مشترک ادارات یاد شده تاکید کرد.
دکتور عباس بصیر شیوع ویروس کرونا را در سال جاری چالشی خواند که باعث کمبود بورسیه های تحصیلی در سال ۱۳۹۹ شد. وی گفت پلان های را روی دست است تا این بخش تقویت گردیده و زمینه جلب بورسیه های بیشتر تحصیلی برای جوانان افغان مساعد گردد.
همچنان پوهندوی دکتور نوراحمد آخندزاده رئیس ارتباط خارجه و تنظیم بورسیه ها روی وضعیت بورسیه های تحصیلی، و محصلان افغان در خارج کشور معلومات داده گفت که قرار است تا در مقرره تنظیم بورسیه های تحصیلی تعدیلاتی وارد گردیده و تا دو هفته دیگر به این کمیسیون ارائه گردد.



به گفته موصوف تعدیلات جدید در این مقرره تا حد زیادی باعث رفع مشکلات در توزیع بورسیه ها و رسیدگی به مشکلات محصلان افغان در خارج خواهد شد.
در جلسه کمیسیون روی موضوعات مختلف از جمله مشکلات محصلان افغان که در شهر ترمز اوزبیکستان، پرداخت مصارف ٦ تن از اساتید که مصروف تحصیل در کشور مالیزیا می باشند و چند مورد دیگر از مشکلات و درخواست های محصلان بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## شهرک رهایشی استادان، کارمندان و کارگران پوهنتون تخار تهداب گذاری شد

این شهرک از بزرگترین پروژه های ولایت تخار به شمار می رود که در محوطه زمین ملکیت پوهنتون تخار تطبیق می‌گردد.



شهرک رهایشی استادان، کارمندان و کارگران دانشگاه تخار با سپری نمودن مراحل قانونی و منظوری رئیس جمهور کشور در مرحله تطبیق رسیده که سر انجام سنگ بنای آن به زمین گذاشته شد.



در مراسم تهداب گذاری این شهرک پوهندوی خیرالدین خیرخواه رئیس پوهنتون تخار، مولوی عبدالله قرلق والی ولایت تخار، وفی الله رحمانی رئیس شورای ولایتی، انجنیر عزیزالرحمن رحمانی رئیس امور شهر سازی، مولوی عبدالصمد محمدی رئیس شورای علما، روسا و مسوولین ادارات دولتی، معاونین و اعضای رهبری پوهنتون، مسوولین نهادهای تحصیلی خصوصی تخار، استادان و کارمندان پوهنتون، اعضای جامعه مدنی، بزرگان قومی و شخصیت های متنفذ، جوانان و خبرنگاران شرکت نموده بودند.



با تطبیق شدن این پروژه، تخار دارنده‌ی یک شهرک معیاری خواهد شد که در آن همه امکانات و ملحقات شهری در نظر گرفته شده است.

## د خصوصي لوړو زده کړو موسسو د کمیسیون غونډه جوړه...

مقرراتو پلي کول او د دې بنسټ له لوري علمي فعالیتونه د هېواد د لوړو زده کړو پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې اساسي عنصر یاد کړ.



وروسته د غونډې غړو چې د لوړو زده کړو رهبري ډله، د مرکز د ځلورو پوهنتونونو رییسان، د خصوصي لوړو زده کړو د موسسو د ټولنې رییس او د لوړو زده کړو سلاکاران وو، له اجندا سره سم یې پر موضوعاتو خبرې اترې وکړې او اړینې پرېکړې وشوې.

## د لوړو زده کړو وزیر د بغلان پوهنتون له مشرتابه سره وکتل

د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر د بغلان پوهنتون له مشرتابه سره په لیدنه کې، د دوی د کړنو راپور، لاسته راوړنې او ستونزې واورېدې.
د بغلان پوهنتون رییس پوهنیار عبدالقدیر مهان په داسې حال کې چې د دې پوهنتون د ځینو پوهنځیو رییسان هم حاضر وو، د بغلان پوهنتون کړنې او لاسته راوړنې یې تشریح کړې او د کادري او اداري تشکیلاتو، درسي ټولګیو او زیربناوو په کمښت یې خبرې وکړې.



نوموړي وویل، د بغلان پوهنتون د ۵۵۰۰ په شاوخوا کې نجونې او هلکان محصلین لري چې په ۷پوهنځیو او ۳۰ څانګو کې د ۱٦۰ تنو علمي کادري پرسونل له لوري زده کړې ورکول کېږي.
وروسته د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر، له کمي او کیفي پلوه د پوهنتونونو پراختیا د ملاتړ په اړه د دې وزارت د مشرتابه تګلارې د بغلان پوهنتون له رهبري ډلې سره شریکې کړې، دوی ته یې ډاډ ورکړ چې د لوړو زده کړو وزارت رهبري له هر هڅې طرحې او وړاندیز څخه چې په پوهنتونونو کې د درسي کیفیت د ودې او وړتیا لوړولو لامل کېږي په جدي ډول ملاتړ وي.
د لوړو زد کړو وزیر په پای کې د بغلان پوهنتون د ستونزو د حل په تینګار سره په علمي بنسټونو کې د کیفیت د لوړوتیا د تازه فرصتونو په جوړولو هم ټینګار وکړ.

## د شهید استاد رباني ښوونې او روزنې پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت د اکاډمیک اعتبار ورکولو سند ...

نړیواله کچه یې د علمي اثارو اغېز ښندنه ده.
د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر د هېواد د لوړو زده کړو له بنسټونو وغوښتل چې د کار د مارکېټ له اړتیاوو سره سم د پیاوړي بشري ځواک د زده کړې او د علمي تولیداتو په برخه کې خپل رول څرګند کړي او خپل ځای په ټولنه، سیمه او نړۍ کې ثابت کړي.



د شهید استاد رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون رییسې پوهنوال لیلما شریفي یما د اعتبار ورکولو د درېیم پړاو سند اخیستل د لوړو زده کړو وزارت د مشرتابه، د دې پوهنتون رهبرۍ ډله او د دې پوهنتون استادانو او کارکوونکو د همکارۍ پایله وه زیاته یې کړه:
"دغه بریا د کار پیل دی او موږ هوډ لرو چې دغه پوهنتون به د ماسټرۍ پروګرامونو د پړاوونو د مخکې وړو، له علمي څېړنو ملاتړ، په لوړ کیفیت د تدریسي خدمتونو وړاندې کول، د ګټورو توامیتونو پراختیا، د پوهنتونونو د ځوانو استادانو لپاره د تدریس میتود لږ تر لږه درې میاشتنیو لنډمهالو پروګرامونو جوړول او دوی ته د تدریس سرټیفیکېټ ورکول او په پای کې پوهنتون د نړیوالو بنسټونو د اعتبار او کیفیت د تضمین د سند اخیستو ته تیارول زموږ له لومړیتوبونو څخه دي".
همداراز د لوړو زده کړو وزارت د علمي معینیت سلاکار پوهنوال غلام دستګیر خاورین اوس مهال د لوړو زده کړو د بنسټونو دنده د ټولنې د اړتیاوو رفع کول وبلل او یاد پوهنتون ته یې د دې بریا مبارکي وویله.



د یادولو وړ ده چې تر دې وړاندې هم د لوړو زده کړو ٦ دولتي او ٤ خصوصي بنسټونو د اعتبار او کیفیت د تضمین سندونه له لوړو زده کړو وزارت څخه اخیستي دي.

## د لوړو زده کړو د داخلي تفتیش رییس، د علي اباد د کادري روغتون د وضعیت...

د کړنو د تفتیش امر حضور درلود، د روغتیایي خدمتونو له وړاندې کولو د ډاډ، د نوکریوال ډاکټرانو د حضور، د ناروغانو د کوټو د تسخین او نظافت او د روغتون له ځینو نورو برخو یې لیدنه وکړه او له ناروغانو سره یې د روغتون د مسوولینو د چلند او د اعاشوي او روغتیایي موادو د وېش په اړه خبرې وکړې.



یادې ډلې د خوړو د کیفیت او پخولو، له مینو سره سمه مېوه او د روغتیایي موادو د وېش لکه ماسک او دست کش په اړه د یاد روغتون د ډاکټرانو او نوکریوالو شکایتونه ولیکل. د یادې ډلې په وینا بستري ناروغان د ډاکټرانو له چلند او ښې پاملرنې خوښ وو، خو د روغتون ډاکټران او نرسان د بې کیفیته خوړو له پخولو، بې کیفیته مېوې او د روغتیایي وسایلو لکه ماسک او دست کشو د وېش په اړه شک درلود او څرګنده یې کړه چې له پنځو میاشتو راهیسې غوښه او له لسو ورځو راهیسې شیدې له مینو سره سمې نه ورکول کېږي.
د دې ارزونې په بهیر کې د روغتون د داخله سرویس مرکز ګرمي نه چالان والی، بل هغه څه وو چې د لوړو زده کړو وزارت د داخلي تفتیش رییس یې د ژر تر ژره فعالیدو غوښتونکی شو.
غلام داوود شایق د علي اباد روغتون له موظفینو او ډاکټرانو څخه چې په دې روغتون کې زیار باسي او خپله دنده په ښه توګه ترسره کوي، ویې منله چې په ټولیزه توګه د روغتون د ډاکټرانو او پرسونل د پاملرنې له کبله د روغتون وضعیت نظر پخوا ته ښه شوی دی خو اوس هم کمښتونه شته دي چې په ګډو هلو ځلو سره له دې ستونزو څخه وتلای شو.
د نوموړي په وینا تاکل شوې ده چې د دې ارزونې بشپړ راپور د لوړو زده کړو له مقام سره شریک کړل شي څو د کمښتونو د رفع کولو او قانوني کړنو له پاره لازم اقدامات ونیسي.



د علي اباد تدریسي روغتون د هېواد په کچه یو له پخوانیو کادري او معالجوي روغتونونو څخه دی چې د ۱۳۱۰ لمریز کال په جوزا میاشت کې یې د بنسټ ډبره د علي اباد غره په لمن کې اېښودل شوې ده او اوس مهال ۲۵۰ بستر، ۱۲ بېلابېلو څانګو، په بېلابېلو برخو کې د تدریس مسوولیت، څېړنه او د هېواد په کچه د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول په غاړه لري.

## از هفدهمین سالگرد رسمی شدن زبان های ازبیکی و ترکمنی گرامیداشت ...

دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی، گرامیداشت از سالگرد رسمی شدنِ زبان های ازبیکی و ترکمنی در افغانستان را یک گاَم مثبت در راستای غنامندشدن فرهنگ ملی افغانستان عنوان کرد و آن را به تمام ملت افغانستان و گویندگان این زبان ها تبریک گفت.



وزیر تحصیلات عالی ضمن شرح راهکارهای رهبری وزارت تحصیلات عالی جهت توسعه و ترویج زبان های یادشده به گونه علمی، گفت که در بیش از هفت پوهنتون کشور دیپارتمنت‌های زبان و ادبیات ازبیکی و ترکمنی ایجاد گردیده و بیش از صد تن نیز به هدف آموزش تحصیلات عالی در رشته های زبان های ازبیکی و ترکمنی به کشور های ترکمستان، ازبیکستان و ترکیه اعزام شده اند؛ تا در برگشت در خدمت فرهنگ و ادب زبان های ازبیکی و ترکمنی افغانستان باشند.
دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی، با صحبت روی اهمیت زبان و استفاده از آن در انتقال تجارب بشری و علمی، افغانستان را خواستگاه زبان ها و فرهنگ های متنوع خواند و افزود که در فرهنگ اسلامی و زبان قرآن، زبان‌ها و رنگ‌ها از نشانه های قدرت الهی محسوب گردیده و احترام به رنگ‌ها و زبان‌ها در این فرهنگ، در واقع ارج گذاری به نشانه های قدرت خداست.



طاهر زهیر سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ نیز طی صحبتی افغانستان را کشوری عنوان کرد که پلورالیزم و کثرت‌گرایی فرهنگی، زبانی و قومی را در نظام حقوقی اش به رسمیت شناخته و نگهداری و پاسداری از آن را مسؤلیت خویش می پندارد.
رنگینه حمیدی وزیر معارف کشور از چاپ و توزیع چهار صدهزار کتاب در معارف کشور به زبان های ازبیکی و ترکمنی خبرداد و گفت که این روند تا مرحله رفع نیاز در این بخش ادامه خواهد داشت.
در این همایش فرهنگی پیام های از نشانی احزاب سیاسی و شخصیت های ملی نیز به شمول رئیس جمهور پیشن کشور حامد کرزی، مارشال عبدالرشید دوستم، دکتور عبدالله عبدالله رئیس شورای مصالحه ملی و صلاح الدین ربانی رئیس جمعیت اسلامی افغانستان به خوانش گرفته شد که محتوای تمام آن در برگیرنده پذیرش تنوع فرهنگی، هم‌پذیری، تقویت بنیان‌های صلح و وحدت ملی در افغانستان بود.